# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۵مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۶مه | دویم کال | ۳۰۰مه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### د سرپل د لوړو زده کړو موسسه

د سرپل د لوړو زده کړو موسسې رییس وايي، د لوړو زده کړو د دې موسسې او پر پوهنتون د بدلېدو لپاره ډېر پلانونه لري چې هر یو به یې پر خپل وخت عملي کړي، څو سرپل ولایت هم د یوه مجهز او پرمختللي پوهنتون درلودونکی شي.




### د دويمې درې اړخيزې غونډې په لړ کې؛
# پاکستان يو ځل بيا ژمنه وکړه چې په افغان سوله کې رغنده رول لوبوي



۳

### په فراه کې د الووېرا حاصلات ۵۵ ټنو ته رسېدلي



د فراه د کرنې او مالدارۍ رياست چارواکي وايي، په دغه ولايت کې د کرل شويو الووېرا حاصلات ۵۵ ټنو ته رسېدلي او د دغه بوټي د پراختيا لپاره به د دغه ولايت په دوو ولسواليو کې شل ګلخانې جوړې کړي.

د دغه ولايت د کرنې رييس عبدالمنان متين پژواک ته وويل چې سږ کال د فراه په شل جرېبه ځمکه کې الووېرا کرل شوې وه چې په هر جرېب کې يې ۸ زره بوټي کېنول شوي وو.

د نوموړي په خبره، د فراه اقليم د دغه بوټي لپاره ډېر ښه مساعد او د کروندګرو د اقتصاد لپاره ډېر اغېزمن دی، نو ټاکل شوې چې د کرنې رياست د فراه په پشت رود او خاکسفيد ولسواليو کې د الووېرا شل ګلخانې جوړې کړي .

الووېرا د پوستکي د ښکلا، د وېښتانو د پياوړي کېدو، هضم او د جلدي ناروغيو د درملنې لپاره ګټور بوټی دی.

### د ملکي وګړو پر وژنه، خاينانه او مرګونی سکوت
۲ مخ

### افغانستان-چین؛ امنيتي تهديدونه او ګډ فرصتونه
۲ مخ

### عفونت معده؛ علائم، عوامل، راه‌های پیشگیری و درمان
۵ مخ

## د چين د بهرنيو چارو وزير: له پاکستانه غواړو چې د سولې برخه کې عملي اقدامات وکړي

ولسمشر غني تېره ورځ په ارګ کې د چين د بهرنيو چارو له وزير وانګ يي سره کتلي دي. له ارګه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، په دې کتنه کې دواړو لوريو د سولې، ټاکنو، ترهګرۍ ضد مبارزې، د هوايي دهلېز د پراختيا، انکشاف، زيربنا او په نورو برخو کې د دوه اړخيزو همکاريو په اړه خبرې کړې دي.

د سرچينې په وينا، ولسمشر غني د چين د بهرنيو چارو له وزير نه وغوښتل چې د سولې د سيمه ييزې اجماع په لا پياوړتيا کې همکاري وکړي. د چين د بهرنيو چارو وزير ويلي، چين د سولې، ترهګرۍ ضد مبارزې، زيربنا، سوداګرۍ او انکشاف په برخه کې له افغانستان سره هر ډول همکارۍ ته ژمن دی.

وانګ يي په دې ليدنه کې د افغانستان او چين هوايي دهلېز ګټور وباله او د لا پراختيا غوښتنه يې وکړه چې د جلغوزيو ترڅنګ انار او نور افغاني توليدات او کرنيز توکي هم چين ته صادر شي. د چين د بهرنيو چارو وزير دغه راز وويل، پاکستان په طالبانو خپل اغېز لري او له دوی به وغواړي چې له دغه اغېز نه په استفادې په افغانستان کې د جنګ د پای ته رسولو لپاره عملي اقدامات وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې کابل پرون د چين، افغانستان او پاکستان د درې اړخيزې ناستې کوربه و. په دې ناسته کې پر افغان سوله، د افغانستان او پاکستان د اړيکو په ښه کېدو او سيمه ييزې همکارۍ خبره وشوې.

### پاکستان به سبا د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو کوربه وي



۵ مخ

### نهادهای امنیتی چگونگی تلفات غیرنظامیان در کنر را بررسی می‌کنند



پس از عملیات در ولسوالی شیگل ولایت کنر و پخش گزارش‌ها دربارۀ تلفات غیرنظامیان در این عملیات، وزارت‌های دفاع ملی و امور داخله، از آغاز بررسی‌ها در این باره خبر می‌دهند. در گزارش‌های نخستین در این باره، از جان باختن و زخم برداشتن نزدیک به بیست غیرنظامی، به شمول زنان و کودکان، در بمباران هوایی در این عملیات، سخن گفته شده است؛ اما نهادهای امنیتی این آمار را تأیید نمی کنند.

نجیب دانش، سخن‌گوی وزارت امور داخله در این باره گفت: «یک هیئت مؤظف شده است که چگونگی این حادثه را بررسی بکنند که آیا خطاهای هوایی بوده و یا این که کدام مشکل دیگری پیش آمده است».

غفور احمد جاوید، سخن‌گوی وزارت دفاع ملی نیز افزود: «کسی که در این جا غفلت وظیفوی کرده است یا معلومات درست ارایه نکرده است، با او برخورد قانونی صورت می گیرد».

در همین حال، دفتر سخن‌گوی نیروهای امریکایی در کابل می‌گوید که این نیروها در عملیات کنر، تنها نقش مشوره دهی داشته اند و این عملیات از سوی نیروهای دولتی انجام شده است.

رویداد ولسوالی شیگل ولایت کنر، پنج‌شنبه شب، هنگامی رخ داد که به گفته مقام‌های محلی، یک پناه گاه طالبان، از زمین و هوا آماج نیروهای دولتی قرار گرفت.

نبرد میان دو طرف چند ساعت به درازا کشید و نهادهای امنیتی می گویند که در این نبرد، به طالبان تلفات وارد شده است؛ اما طالبان تمامی جان باخته‌گان و زخمیان این رویداد را غیرنظامیان می‌دانند.




Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دریــځ

## د ملکي وګړو پر وژنه، خاینانه او مرګونی سکوت

په ټولنیزو رسنیو کې د ماشومانو د جسدونو زړه بوږنوونکي تصویرونه خپرېږي چې د امریکایي ځواکونو په هوایي بریدونو کې شهیدان شوي دي. که څه هم په کونړ کې د دغو بریدونو په تړاو ډېر معلومات نشته او چارواکي یې د پټولو هڅه کوي، خو سیمه ییز خلک وایي چې لسګونه ښځې او ماشومان وژل شوي دي. د کونړ ترڅنګ له هلمنده هم په هوایي بریدونو کې د ملکي وګړو د وژنې خبرونه ورکړل شوي دي.

حکومت د تل په څېر د ملکي وګړو پر وژنه چوپه خوله دی او ځینې چارواکي یې د پټولو هڅه کوي. په ټولنیزو رسنیو کې هغوی چې د پیسو په بدل کې حکومت ته تبلیغات کوي، د دغو بریدونو پر توجیه کولو بوخت دي. ځینې وایي چې طالبان د خلکو په کورونو کې پټېږي. ځینې یې بیا وایي چې خلک دې طالبانو ته په کورونو کې ځای نه ورکوي چې ونه وژل شي. دغه راز ځینې یې بیا وایي چې دا د طالبانو ښځې او ماشومان وو چې وژل شوي دي.

په دې وروستیو میاشتو کې په هوایي بریدونو، چاپو او د ګډو ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي وګړو وژنه ډېره شوې ده. دا وژنې پرله پسې کېږي چې د خلکو او بشري حقونو د فعالینو غبرګونونه یې را پارولي دي. حکومت یا مرګونی او خاینانه سکوت کړی او یا یې هم د ځېرنو خبره کړې چې پایله یې نشته او که وي هم، د خلکو د ستونزو له کمولو او د دغو جنایتونو له مخنیوي سره هېڅ مرسته نه کوي. د ملي یووالي حکومت مشران د دغو وژنو په اړه له دې امله هم سکوت کوي چې که څه ووایي، امریکایي دوستان به یې خپه شي او دا بیا هغه چاره ده چې دوی ته په راتلونکو ټاکنو کې ګرانه پرېوځي. له همدې امله دوی غواړي د خپلو خلکو د وژنې په اړه په چوپتیا سره امریکایان خوښ وساتي او خپل واک او ځواک وغځوي.

له بده مرغه یوازې حکومت نه دی چې پر دغو وحشتونو چوپ دی. د بشري حقونو ډېری سازمانونه، په کابل کې د بشري حقونو کمېسیون، له حکومت څخه د باندې سیاستوال، په اصطلاح جهادي مشران او تش په نوم روشنفکران ټول د دغو جنایتونو پر وړاندې غلي دي. جنایتکاران، د جنایت شریکان او هغوی چې په دې اړه غلي دي، ټول د ولس پر وړاندې مسوول دي.

اوس پکار ده چې نور د دغو وحشتونو پر وړاندې غبر پورته شي. نور دا حالت د زغم وړ نه دی، پکار ده چې جدي ګامونه واخیستل شي. دلته پکار ده چې په یو ټولیز حرکت سره نور د دغو وحشتونو مخه ونیول شي. پکار ده چې د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه خلک را ټول شي. دلته د افغان انسان د وینې لپاره همداسې مبارزه پکار ده لکه له کرښې هاخوا چې پښتنو پیل کړې ده. پکار ده موږ یو بل ته لاسونه ورکړو او په عملي ډول د خپلو ښځو، خویندو، میندو ماشومانو، ورونو او نورو بې ګناه وګړو د خوندیتوب لپاره مبارزه پیل کړو. حکومت او بهرني ملاتړي یې باید مجبور شي چې نور دا وحشت ودروي او که دا وحشت نه دروي، نو خلکو ته پکار ده چې بیا د خپل حق لپاره مبارزه وکړي او دا هېواد له وژونکو بهرنیانو پاک کړي.

# افغانستان-چین؛

# امنیتي تهدیدونه او ګډ فرصتونه

وحیدالله مصلح

افغانستان له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې په یو داسې جنګ کې راګیر دی، چې زمونږ د هېواد نورمال ژوند، اقتصاد، دولتي بنسټونه، فرهنګ او د ژوند هره برخه یې بې ساري ځپلې ده. افغانان د نړۍ لوی مهاجرت تشکیلوي. د دغو جنګونو له امله په سلګونو زره افغانان وژل شوي او په لسګونو زره معلول افغانان د هېواد پر اقتصاد بار دي.

د دغه جنګ یوه لویه مشخصه دا ده چې د موخو په توپیر سره یې دوام پیداکړی، په هره مرحله کې د یو جنګ تر پای وروسته بل جنګ پیلېږي. د تېرو ۱۷ کلونو جنګ داسې دوامداره جنګ دی چې پر افغانانو تحمیل شوی او د دغه جنګ تر ټولو لوی قربانیان خپله افغانان دي.

د افغانستان جنګ د منطقې پر بې امنۍ ژور تاثیر لري. د همدغو تاثیراتو او منطقوي امن په خاطر ضروري ده چې د افغانستان د جنګ اصلي ریښې وپېژندل شي. که د دغه جنګ ریښې معالجه شي، نو په منطقه کې د امنیتي تهدیدونو عوامل له منځه ځي او په دې ډول د امنیتي تهدیدونو په مقابل کې ټول برخه اخیستلی شي.

**د جګړې لوی عوامل:**

**لومړی- له دین څخه ناسم پوهاوی**

دغه فکتور په ځانګړي ډول د افغانانو په خپلمنځي شخړو کې ډېر څرګند دی. د افغان جنګېدونکیو لوریو د جنګ قربانیان په قاطع اکثریت افغانان دي او دوی ټول د خپلو جنګونو لپاره دیني متنونه تفسیر او تعبیروي. دغه برخه زما د تخصص په دایره کې نه ده او همدومره اشاره دلته کفایت کوي، کېدای شي په دې اړه د بې پرې دیني محققینو څېړنې ولوستل شي.

**دویم- په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شتون**

کله چې په ۲۰۰۱ ز کال کې بهرنیانو د طالبانو نظام ړنګ کړ او د بن کنفرانس له لارې د افغانستان لپاره سیاسي نظم رامنځته شو؛ په دغه مرحله کې په لوی لاس د افغانستان فرهنګي، قومي او نظامي انډولونه ګډوډ شول. طالبان چې هغه مهال د افغانستان په ۹۵ سلنه خاوره واکمن وو؛ د زور له لارې له واکه وشړل شول او بیا یې حتی هغه منځلاري هم د بن کنفرانس ته دعوت نه شول. د بن کنفرانس له لارې چې کومو جهتونو حکومت تشکیل کړ، هغوی د تېرو داخلي جنګونو ټول کسات د امریکایي ځواکونو سیوري ته را انتقال کړ. د مخکیني ولسمشر حامد کرزي د واک په لومړیو څو کلونو کې ډېر بېګناه افغانان د دغو کساتونو له امله په ګوانتانامو، بګرام او نورو زندانونو کې بندیان شول.

د طالبانو واکمنۍ د سقوط په وختونو کې ډېری طالبانو په امن او عزت کې ژوند غوښته؛ خو افغان حکومت هغوی ته د امن ژوند له ورکولو عاجز و، د طالبانو ډېری مشران ونیول شول، هغوی په زندانونو کې له تعذیبونو او توهین سره مخ شول او چې کله له زندانونو راخوشې شول، ځینو یې د زندان د تعذیبونو په اړه کتابونه ولیکل او دغو ټولو د امریکایانو په وړاندې د جنګ په پراخولو کې نقش ادا کړ. په دې ډول د طالبانو د لیکو لوړپوړي او منځني مشران ټول مجبور شول چې جنګ ته مخه کړي؛ ځکه هغوی باید له دې دوو انتخابونو یو غوره کړی وای، یا زندان او وژل کېدل او یا له خپلو ځانونو دفاع کول.

په افغانستان کې بهرنیو ځواکونو ځینې مصنوعي جنګي حالتونه هم رامنځته کړي، هغوی د پردې تر شا پر یو شمېر جنګي ګروپونو پانګونه کړې او دلته د دې لپاره چې د سیمې ثبات ولړزوي او د سیمې پر زېرمو، صلاحیتونو او اقتصادي پراختیا مسلط شي، نو یو پرله پسې جنګ غواړي. په افغانستان کې بهرنیان غواړي داسې جنګي ګروپونه تقویه کړي چې هغوی منطقوي قدرتونه تهدید کړي، په دې حساب په افغانستان کې د روان جنګ یو حقیقت دا هم دی چې دا جنګ د افغانستان لپاره نه؛ بلکې د منطقې لپاره طرحه شوی.

**درېیم-مهاجرتونه**

کله چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ، له شپږو تر اتو میلیونو افغانان پاکستان، ایران او نورې نړۍ ته مهاجر شول. دغه مهاجر د افغانستان د مسلسلو جنګونو له امله په دوامداره ډول په بهرنیو ملکونو کې پاتې شول. دغه مهاجرین د افغانستان پر ثبات، ټیکاو او امن مستقیم اثر لري، له همدې امله مهمه ده چې له افغان حکومت سره داسې مرسته وشي چې په نهایت کې افغانستان د خپلو مهاجرینو د جذبولو اقتصادي او هر اړخیز ظرفیت پیدا کړي.

**څلورم- د تعلیمي کچې ټیټوالی**

د افغانستان جګړه د څو لسیزو ده، کله چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ، د نورو تاثیراتو ترڅنګ یې د افغانستان پر تعلیمي سیستم هم بد تاثیر پرېښود. ډېر متعلمین، محصلین او د پوهنتون استادان یا له منځه لاړل، یا زندانیان شول او یا مهاجر شول. د دغو جګړو په ترځ کې د افغانستان ښوونځي د جنګ ډګرونه وګرځېدل او لکه د نورو بنسټونو دغه برخه هم بېسارې ونړېده. وروسته داخلي جنګونو د افغانستان دغه ضعیف تعلیمي سیستم نور هم ویجاړ کړ. د طالبانو تر سقوط وروسته افغانستان ته ډېر ضعیف تعلیمي سیستم پاتې و، نوي افغان حکومت وروسته بیا پر تعلیمي سیستم کار وکړ او اوس د افغانستان تعلیمي کچه په نسبي ډول ښه ده. خو د تعلیمي سیستم دغه سیر متوازن نه دی، د افغانستان په هغو سیمو کې چې هلته جنګونه دي، له یوې خوا هلته له پخوا څخه تعلیمي سیستم ویجاړ پاتې دی او له بلې خوا د جنګونو له کبله په دغو سیمو کې تعلیمي پراختیا ډېره ضعیفه ده، جنګ او بې تعلیمي په خپلو منځونو کې مستقیمه اړیکه لري، بې تعلیمي جنګ او جنګ بې تعلیمي زېږوي. کوم ذهنونه چې د علم پر رڼا منور نه وي، هغه سولهییز سوچ نه لري. افغان جنګ د وسلې په زور نه ګټل کېږي، دا د افغانانو طبیعت نه دی چې پر جنګ او زور یو بل ته مات شي او دا تاریخ ثابته کړې. اوس د دې اړتیا ده چې د جنګ له تهدیدونو سره د علم او فرهنګي تبادلې له لارې مقابله وشي.

**پنځم- افغانستان او مخ پر ودې بېکاري**

د افغانستان دغه اوږده جنګ په پراخه کچه بېکاري رامنځته کړې، په صنعتي او زراعتي لحاظ افغانستان ډېر وروسته پاتې دی او دولتي او خصوصي سکټورونه خلکو ته مناسب شغلونه نه شي رامنځته کولی. په تېرو ۱۷ کلونو کې پراخې بهرنۍ مرستې افغانستان ته راغلې، خو د مصرف د ښه منجمنټ د نه شتون له کبله یا خو بېرته په بېلابېلو طریقو د مرستندویو هېوادونو صندوقونو ته تللې او یا دلته په هېواد کې پر زېربنایي پروژو نه دي لګېدلې، دلته ډېری هغو هېوادونو چې مرستې یې کړې، د خپلو مرستو لپاره یې له خپلو هېوادونو څخه کمپنۍ پر کار ګومارلې، ډېری دغه مرستې بیا د همدې کمپنیو له لارو مرستندویو هېوادونو ته تللې.

د افغانستان د احصایې مرکزي اداري یا Central Statistic Organization پر بنسټ د په ۲۰۱۸ ز کال کې د افغانستان مجموعي نفوس ۳۱،٦ میلیونه تنه اټکل شوی، د اقتصاد وزارت د معلوماتو پر بنسټ په افغانستان کې تر ۳۹ سلنه ډېر نفوس د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. له بلې خوا د افغانستان د کارګرانو د ملي اتحادیې National Union of Workers and Employees of Afghanistan له څرګندونو سره سم په افغانستان کې اته نیم میلیونه نفوس د کار کولو وړ دی او د بېکارۍ نرخ په کې تر ۳۹ سلنې لوړ دی. دا په داسې حال کې ده چې هر کال ۴۰۰ زره نوي کاري قوې هم بازار ته وړاندې کېږي. د CSO د ارقامو پر بنسټ هر کال یوازې ۱۱۵۸۰۳ کاري قوه د لوړو او منځنیو زده کړو تر فراغت وروسته کاري بازار ته وړاندې کېږي.

که بېکاري په همدغه نرخ مخ په وده وي، نو اکثره بېکاره ځوانان د جنګ په لومو کې نښلي، د همدې لپاره اړینه ده چې په افغانستان کې د کار د زمینو پیدا کولو لپاره با ثباته او دوامداره برنامې په پام کې ونیول شي او د دې لپاره اړتیا ده چې بهرني هېوادونه په بېلابېلو برخو کې پانګونو ته تشویق شي.

**چین د افغانستان په اړه څه کولای شي؟**

**لومړی- د امن او سولې کوښښونه**

چین د شانګهای د همغږۍ سازمان په دایره کې د منطقې لپاره ډېرې لویې اقتصادي او تجارتي پروژې لري. په دې لړ کې کلتوري برخه هم د شراکت لویه مجال دی. کله چې چین غواړي په منطقه کې ډېرې لویې پانګونې وکړي او یوه لار یو کمربند یا One Road One Belt په څېر لویې پروژې عملي کړي، نو طبعاً چین په سیمه ییز ډول د یو لوی قدرت په توګه ظهور کوي او څومره چې چین پراختیا کوي، همغومره نړیوال قدرتونه له سیمې په شا کېږي، نو په دې ډول نړیوال قدرتونه په منطقه کې راپورته کېدونکی چین په اسانه پرمختګ ته نه پرېږدي او په دې سیالۍ کې د جنګ د پراخولو انتخاب یو اسانه انتخاب دی، چې د چین د پراختیا مخه پرې ونیول شي. هرڅومره چې جنګ اوږدېږي، هماغومره منطقوي کېږي او خپرېږي. چین چې له یوې خوا یې په داخلي لحاظ اقتصادي پراختیا متوازنه نه ده او له بلې خوا یې د پانګې ډېره زیاته برخه په منطقوي پروژو کې بنده ده، نو جنګ کولای شي په ډېره چټکۍ د چین اقتصادي او منطقوي پراختیا پر شا وتمبوي او پانګونې یې ضایع کړي.

له همدې امله که چین غواړي په منطقه کې د یو منطقوي سیال په توګه وځلېږي او لویې اقتصادي پروژې یې بریالۍ شي؛ نو منطقي خبره دا ده چې چین باید په سیمه کې د خپلې اقتصادي او منطقوي سیالۍ په خاطر د امن او کراری په اړه فعال سیاست ولري، د افغانستان د سولې په قضیه کې چین دوه مهمې ځانګړتیاوې لري:

**لومړی:** دا چې چین د افغانستان په داخلي چارو کې بې پرې لوری دی، چین د افغانانو په منځ کې د دوست هېواد په توګه شهرت لري او له بلې خوا طالبان هم د چین په اړه طبیعي نظر لري.

**دویم:** دا چې په عین وخت کې چین له پاکستان سره ډېر ښه د ملګرتیا علایق لري.

دغه دواړه فکټورونه چین ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د افغان سولې په اړه مهم نقش ادا کړي. په دغه نقش کې پر چین افغان حکومت، طالبان او ګاونډ ټول باور کولای شي.

**دویم- په افغانستان کې د چین پانګونې**

افغانستان د پانګونو لپاره ډېر مناسب هېواد دی، افغان حکومت باید چین په افغانستان کې د پانګونو لپاره تشویق کړي، افغان حکومت باید د چین د پانګونو لپاره ټول قانوني او حقوقي سهولتونه رامنځته کړي، چین کولای شي د منطقوي سیال په توګه په لاندې برخو کې پانګونې وکړي:

**۱- زراعت:** افغانستان یو زراعتي هېواد دی چې ۹٦۱۰۰۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه لري. د افغانستان زراعت عصري مشینریو او د کښت نویو طریقو ته اړتیا لري، د باغدارۍ په برخه کې د پانګونو لپاره ډېرې زمیني شته، اپیومو د بدیلونو په برخه کې او همدا راز د کانالونو په برخه کې د چین هېواد پانګونې کولای ش< چې پراخ کاري فرصتونه پیدا کړي او افغانستان په زراعتي لحاظ پر ځان بسیا کړي.

**۲- صنایع: که** د صنایعو په برخه کې لنډ نظر وکړو، نو افغانستان په ۲۰۰۸ ز کال کې په مجموعي ډول ۸۳۱ فعالې صنعتي موسسې درلودې، خو دغه شمېره هر کال مخ په ښکته روانه وه او بالاخره په ۲۰۱٦-۲۰۱۷ ز کلونو کې دغه شمېره ٦٦۴ ته وغورځېده. له همدې امله د صنعت په بېلابېلو برخو کې پانګونې کولای شي چې لوی کاري فرصتونه رامنځته کړي.

**۳- تعلیمي او تحصیلي برخه:** چین د افغانستان په تعلیمي او تحصیلي برخه کې په ونډې اخیستو سره د امن او کرارۍ په رامنځته کولو کې برخه اخیستلی شي. په دې برخه کې چین د مکاتبو په جوړونه، د تعلیم په خصوصي برخو کې پانګونه، د متعلمینو او محصلینو لپاره د بورسونو ورکړه او د معیاري پوهنتونو په برخه کې پانګونه او مرسته کولای شي. داسې مرستې په اوږدمهال کې سوله ییز ذهني تغیر رامنځته کوي او د ټولنې په وګړو کې د سولې او کرارۍ بنسټیزه کوي.

**۴- د اوبو بندونه:** افغانستان د اوبو پنځه مهمې حوزې لري، په دغو ټولو حوزو کې د بریښنا بندونه جوړېدای شي، یوازې د کونړ پر سیند پنځه ځایه د ۱۰۰۰ میګا واټه په ظرفیت بندونه جوړېدا ی شي، خو په دې برخه کې افغانستان باید له پاکستان سره د اوبو د مدیریت رسمي معاهده ولري؛ داسې چې زمونږ ملي ګټې پکې په لوړه کچه خوندي شوې وي. تر دغه لاسلیک وروسته بیا کېدای شي چې پانګونه راجلب شي. افغانستان یوازې له ایران سره اوبو د مدیریت رسمي معاهده لري.

**۵- معدنونه:** افغانستان د مسو، اوسپنې، ډبرو سکرو، لیتیمو، یورانیمو او نفتو پراخې زېرمې لري. په دې برخه کې د پانګونو په خاطر باید افغانستان د سرمایه ګذارۍ په لار کې هر راز ښکاره او پټ خنډونه له منځه یوسي، دا ډول پانګونې باید د سیاسي او نظامي رقابتونو ښکار نه شي.

**٦- لوی سړکونه:** جنګونو د افغانستان سړکونه په پراخ ډول ویجاړ کړي، د افغانستان ډېری لرې پرتې سیمې له مرکز سره د پخو سړکونو په واسطه نه دي وصل شوې، حتی په پلازمېنه کابل کې د سړکونو عصري کېدنه یوه لویه ستونزه ده. د ترانسپورټېشن ازدحام او ترافیکي بیروبار ورځنی ژوند له ستونزو سره مخ کړی، له همدې امله په دې برخه کې پانګونه ډېره مهمه ده.

### د دویمې درې اړخیزې غونډې په لړ کې؛

# پاکستان یو ځل بیا ژمنه وکړه چې په افغان سوله کې رغنده رول لوبوي



کابل پرون د افغانستان، پاکستان او چین ترمنځ د درې اړخیزې ناستې کوربه و. په دې ناسته کې چې د یادو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ګډون کړی و، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو پر ښه کېدو، د سیمه ییزې همکارۍ پر پراخېدو او سولې په اړه خبرې وشوې.

له ناستې وروسته د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي په کابل کې مطبوعاتي کنفرانس ته وویل چې افغان جګړه نظامي حل نه لري، نو اړینه ده چې د سولې او خبرو اترو له لارې یې حل ومونډل شي.

نوموړي زیاته کړه، چین د سولې په اړه د افغانستان او پاکستان د «عمل ګډ پلان» او هغو هڅو ملاتړ کوي چې سولې ته زمینه برابره کړي.

د چین د بهرنیو چارو وزیر همدارنګه وویل، سوله د افغانانو اړوند ده او د افغانانو په مشرۍ او حاکمیت باید ورته احترام وشي او دغه بهیر باید په عمل کې د دوی په مشرۍ ترسره شي.

وانګ یي وویل: «موږ له طالبانو غواړو چې د سولې له دغه وړاندیز سره یو ځای شي. تر هرڅه ژر باید د سولې بهیر ته مخ را واړوي، څو ټول پر دې متحد و اوسو چې متقابل باور رامنځته کړو.»

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي هم د دغه مطبوعاتي کنفرانس پر مهال وویل، د افغان جګړې ټولې ښکېلې غاړې دې ته هڅوي، څو په خپل منځ کې سوله وکړي. نوموړي زیاته کړه، هېواد یې په دې برخه کې خپل رغنده رول لوبوي او د سولې خبرو د مخ ته وړلو لپاره خپلې هڅې کوي.

قریشي وویل: «دا یو افغاني تصمیم دی، تاسو «افغانان» باید دغه تصمیم ونیسی چې تاسو د خپل راتلونکي لپاره څه غواړئ، تاسو دا تصمیم نیسی چې کله او څنګه دغه تصمیم نیسی. موږ «پاکستان» تاسو ته په دې برخه کې اوږه درکوو.»

پر پاکستان له ډېره وخته دا تورونه دي چې په خپله خاوره کې یې طالب مشرانو ته پټنځایونه ورکړي او د افغان سولې په برخه کې یې همکاري نه ده کړې.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د دې پوښتنې په ځواب کې چې دوی به د افغان سولې په برخه کې لازمه همکاري وکړي او کنه؟ وویل، پاکستان په وار وار ویلي چې دوی چمتو دي، څو له افغان حکومت سره سولې ته د رسېدو په برخه کې لازمه مرسته وکړي او دوی دغه کار ته په پوره ډول چمتو دي. نوموړي په پاکستان کې د ترهګرو د پټنځایونو په اړه وویل، پاکستان له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې قربانۍ ورکړې دي او دغو قربانیو ته په کتو به دوی هېڅکله په خپله خاوره کې ترهګرو ته ځای ورنه کړي.

هغه زیاته کړه، په افغانستان کې سوله د پاکستان او سیمې په ګټه ده او دوی چمتو دي چې د یو ښه ګاونډي رول په پوره صداقت سره ترسره کړي.

دغه مطبوعاتي کنفرانس ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر وویل چې په دغه درې اړخیزه ناسته کې له امنیت او تروریزم سره پر مبارزې، اقتصادي پراختیا او سیاسي باور او سولې خبرې وشوې.

صلاح الدین رباني وویل، په دې ناسته کې یې له پاکستان څخه وغوښتل چې د افغانستان د سولې له بهیر سره مرسته وکړي.

هغه زیاته کړه: «موږ په وار وار ویلي چې په افغانستان کې سوله او امنیت په سیمه کې د سولې او امنیت په معنا دی. په افغانستان کې سوله او امنیت په پاکستان کې د سولې په معنا دی، اوس یې وخت رسېدلی چې پاکستان د عملي ګامونو په پورته کولو سره وښیي چې په رښتیا هغه څه چې وایي، همداسې ده که نه.»

د یادونې ده چې دغه ناسته کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ له افغان سولې سره د همکارۍ او له تروریزم سره د مبارزې تړون هم لاسلیک شو.

# د افغانستان - چین - پاکستان بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ د درې اړخیزو خبرو اترو دویم پړاو ګډه اعلامیه

**۱۳۹۷ لمریز کال د لیندۍ ۲۴مه**

**کابل – افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني، د چین ولسي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي او د پاکستان اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر مخدوم شاه محمود قریشي د افغانستان-چین-پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو ډیالوګ دویمه ناسته د ۱۳۹۷ لمریز کال د لیندۍ په ۲۴مه په کابل کې ترسره کړه. دغه ناسته د افغانستان اسلامي جمهوریت جمهور رییس په پرانیستونکې وینا پیل شوه.

چین او پاکستان؛ افغانستان ته د پارلماني ټاکنو په بریالۍ توګه د ترسره کولو مبارکي ورکړه او په ۲۰۱۹ ز کال کې د ولسمشریزو ټاکنو ترسره کولو لپاره یې د افغان حکومت د هلو ځلو ستاینه وکړه.

درې واړو لوریو د خپلمنځي اړیکو پیاوړي کولو، د همکاریو زیاتولو، د یوې لار او یو کمر بند پروژې تر چتر لاندې د اتصال پراخولو، د افغانستان په اړه د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانس او نورو سیمه ییزو نوښتونو په وړاندې پر خپلو ژمنو یو ځل بیا ټینګار وکړ.

درې واړو لوریو د یوې لارې، یو کمربند ګډ نوښت په چوکاټ کې د چین-افغانستان-پاکستان د درې اړخیزو همکاریو پر غځولو او زیاتولو هوکړه وکړه. دغه راز درې واړو لوریو له هر ډول توپیري چلند پرته د ترهګرۍ ټولو ډولونو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې پر خپلو قوي حللارو یو ځل بیا ټینګار وکړ.

د بهرنیو چارو درې واړو وزیرانو د سیاسي متقابل باور رامنځته کولو او د پخلاینې بهیر څخه ملاتړ، پراختیایي همکاریو او نښلونې، امنیتي همکاریو او له ترهګرۍ سره د مبارزې او د درې اړخیزو همکاریو په برخو کې د ګډو دوامدارو هلو ځلو هوکړه وکړه.

درې واړو لوریو د افغانانو په رهبرۍ او مالکیت له سولې ټولشموله بهیر څخه چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه یې بشپړ ملاتړ شوی او افغانستان ته د سولې راوستلو لپاره یوازینۍ حللار ګڼل کېږي، پر خپل ملاتړ ټینګار وکړ. همدا راز، چین او پاکستان د ولسمشر غني هلې ځلې او په ځانګړي ډول د کابل بهیر دویمې ناستې او د افغانستان په اړه د جنیوا کنفرانس کې جوړو شویو هر اړخیزو پلانونو ستاینه وکړه او پر افغان طالبانو یې غږ وکړ چې ژر تر ژره دې د سولې بهیر سره یو ځای شي. په داسې حال کې چې د سولې بهیر د پیل کېدو هلې ځلې رواني دي، درې واړو خواوو پر اړوندو لوریو غږ وکړ چې تاوتریخوالی او په افغانستان کې د بېګناه وګړو مرګ ژوبلې ته د پای ټکی کېږدي.

درې واړو لوریو د متقابلو ګټو په برخو کې د اقتصادي پراختیایي همکاریو د دوام او د «نرمو پروژو» لکه، د ظرفیت لوړونې پروګرامونو د تبادلې تطبیق او دوام او همدا راز د ژوندانه اسانتیاوو او د نښلونې د «سترو پروژو» د راسپړلو هوکړه وکړه. چین، د غلام خان خېل سرحدي نقطو په دواړو خواوو کې د کډوالو د نوملیکنې مرکزونو د جوړولو او د ښه ښبناک اوبو اسانتیاوو برابرولو په برخو کې له افغانستان او پاکستان سره د مرستې او ملاتړ او همدا راز په چمن او سپین بولدک کې د سړو خونو جوړولو لپاره خپل چمتووالی وښود. چین همدا راز د کویټې-قندهار رېل پټلۍ او د کابل-پېښور موټروې او رېل پټلۍ جوړولو په ګډون د برېښنا او نښلونې سترو پروژو په برخو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د لا ډېرو همغږیو ملاتړ وکړ. درې واړو لوریو د عملي همکاریو تر چتر لاندې هوکړه شویو پروژو او فعالیتونو د تطبیق لپاره پر خپلو قوي ژمنو یو ځل بیا ټینګار وکړ.

درې واړو هېوادونو خپل قوي هوډ څرګند کړ چې هېڅ هېواد، سازمان یا فرد ته به اجازه ور نه کړي چې د دوی له اړوندو هېوادونو څخه د بل هر هېواد په وړاندې د ترهګریزو فعالیتونو په موخه کار واخلي. درې واړو لوریو د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې پر درې اړخیزو همکاریو غور وکړ او له هر ډول توپیري چلند پرته یې د ترهګرو ډلو او افرادو پر وړاندې د مبارزې هلو ځلو د همغږۍ او همکارۍ پر پیاوړي کولو ټینګار وکړ. دوی همدا راز هوکړه وکړه چې د ترهګریزو شبکو د تمویل، استخدام او روزنې په ګډون به د ترهګرو لوجستیکي ظرفیتونو پر وړاندې مبارزه کوي، د درې اړخیزو همکاریو په چوکاټ کې به د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې ظرفیتونه لوړوي، د ترهګرو انټرنېټي کارونه به بندوي او د هغوی د نابودولو او له منځه وړلو په موخه به د نشه یي توکو کاروباریانو او د ترهګریزو فعالیتونو تمویلوونکو سره د دوی د اړیکو قطع کولو لپاره ګډ کار کوي.

درې واړه لوري موافق دي چې د بهرنیو چارو معینانو د درې اړخیز ستراتېژیک ډیالوګ، د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې او امنیت په اړه د بهرنیو چارو معینانو د سلا مشورو، د رییسانو په کچه د عملي همکاریو او نورو هوکړه شویو میکانېزمونو له لارې به د بهرنیو چارو وزیرانو دویم ډیالوګ اجماع تطبیقوي.

چین او پاکستان له افغانستان څخه د درې واړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د دویم ډیالوګ جوړولو او د افغانستان د تودې مېلمه پالنې له امله مننه وکړه او درې واړو لوریو هوکړه وکړه چې د افغانستان-چین-پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو درېیم ډیالوګ به په ۲۰۱۹ز کال کې په اسلام اباد کې ترسره شي.

### له نړیوالو غبرګونونو سره سره؛

# د کوسوو پارلمان د دغه هېواد د بشپړ پوځ د جوړولو لایحه تصویب کړه

په کور دننه او له نړیوالو غبرګونونو سره سره د کوسوو پارلمان هغه لایحه تصویب کړه چې له مخې به یې د یاد هېواد د چټک غبرګون ځواک په بشپړ پوځ بدل شي.

د دغه هېواد د پارلمان له ۱۲۰ غړو ۱۰۵ یې په یوه بشپړ پوځ د دغه هېواد د چټک غبرګون د ځواک بدلېدو ته مثبته رایه ورکړه.

د یاد هېواد په پارلمان کې د سرب اقلیت غړو په دې رایه ورکونه کې برخه وانه خیسته.

د کوسوو د پارلمان مشر قدري ویسیلي وویل، پارلمان د دغه هېواد د امنیتي ځواکونو په اړه وړاندې شوې قانوني لایحه ومنله.

د تصویب شوې لایحې له مخې، د دغه هېواد د پوځ شمېر دوه چنده کېږي او په تدریج سره به د حرفوي ځواک بڼه واخلي.

د کوسوو ولسمشر هاشم تاديچ وویل، نوی پوځ به له ټولو قومونو جوړ وي او په هېواد او سیمه کې به د سولې لپاره او که اړتیا وي، د نړۍ په هره برخه کې به خدمت وکړي.

د دغه هېواد په پلازمېنه پریشتینا کې د امریکا سفیر فلیپ کاوسنیټ وویل، دا د یوه خپلواک هېواد لپاره طبیعي ده چې له ځان څخه د دفاع وړتیا ولري.

خو د دغه هېواد د پارلمان له پرېکړې مخکې د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ ویلي وو چې د کوسوو د پوځ د جوړولو موضوع نا مناسبه ده او دا اقدام د دغه تړون د مشورو خلاف عمل دی.

بلخوا د صربیا لومړي وزیر ویلي، د کوسوو د پوځ جوړېدل په بالکان سیمه کې د ثبات د هڅو پر ضد ګام دی او دا به په سیمه کې نور کړکېچونه هم رامنځته کړي.

په ورته وخت کې د اروپايي ټولنې د بهرنۍ سیاست مسوولې د کوسوو د پارلمان د دې پرېکړې په اړه خواشیني څرګنده کړې ده.





د روسیې د بهرنیو چارو وزارت هم په یوه بیان کې په تونده لهجه ویلي، ښکاره ده چې کوسوو په سیمه کې د بې ثباتۍ پر یوه مرکز او د جګړې په یوې بالقوه سرچینې بدلېږي.

## د کتـاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◉ لیکوال: دوکتور ډیوېډ شوارټز
◉ ژباړن: میـراحمد یـاد

**لومړۍ څپرکی**
**پر خپل بري باور ولرئ:**




برى د ډېرو نعمتونو لرل دي، مثلاً ارامه ژوند، مناسب کور، رخصتۍ تېرول، سفرونه کول، نوې اسانتیاوې، مالي امنیت، بچو ته لا ډېرې اسانتیاوې ورکول او نور... . بری یعنې په ټولنه او کاري چاپېریال کې لویي او درناوی لرل. بریا یعنې خپلواکي، له اندېښنو، سرخوړیو او ماتو خلاصون. بریا یعنې ځانته درناوی او دا لیدل چې ژوند ورځ تر بلې ښایسته او خوندور کېږي. ژوند کې موږ هغو خلکو ته یو څه کولای شو، چې موږ یې پر وړاندې مسئول یو.
بریا یعنې کامیابي او سرلوړي.
همدا بریا یا کامیابي د ژوند موخه ده.
هر انسان بریا او په نړۍ کې د امکان تر حده ښه شیان غواړي، هېڅوک د ژوند په منځنۍ کچه او ورو مزل خوښ نه دي. د توهین او سرټیټۍ احساس هېڅا ته خوند نه ورکوي.
وایي: قوي باور غرونه خوځوي. دې خبره کې یو حکمت پروت دی او د انسان ژوند رغولای شي. که تاسې رښتیا باور او ایمان ولرئ چې غر له خپله ځایه خوځولای شئ، نو په دې کار کې بریالي کېږئ. زیاتره خلک دا باور نه لري او له دې امله غرونه هم له ځایه نه شي خوځولای.
ځینو خلکو ته دا خبره هسې کم عقلتوب ښکاري چې غر گني په دې خبره چې (غره له ځایه وخوځېږه!) له خپل ځایه خوځېږي.
دا ډول خلک بیا د باور او هیلې تر منځ توپیر نه شي کولای او د دوی خبره سمه ده، ځکه یوازې د هیلې په لرلو سره موږ غر له ځایه نشو خوځولای. یوازې هیله لرل مو نه د لوی شرکت مدیر کولای شي، نه لوی کور درکولای شي او نه مو عاید لوړولای شي، یوازې د هیلې په لرلو د مشرۍ (رهبرۍ) مقام ته نه شئ رسېدای.
خو باور (ایمان) غر له ځایه خوځولای شي، که تاسې باور ولرئ چې بریالي کېږئ، حتمن بریالي کېږئ.
د ایمان قوت نه کوډې دي او نه کوم راز دی.
ایمان یا باور داسې عمل کوي: (زه باور لرم چې دا کار کولای شم) که تاسې دا باور ولرئ چې یو کار کولای شئ، نو همدا باور د هغه کار لپاره لازمه انرژي او مهارت درکولای شي. که تاسې باور ولرئ چې یو کار کولای شئ، نو د کېدو لارې چارې یې درته خپله پیداکېږي.
نړۍ کې هره ورځ بلها ځوانان په نویو بستونو گومارل کېږي، ځینې یې هیله لري چې یوه ورځ به پکې لوی مقام ته ورسېږي، خو زیاتره پکې دا باور او ایمان نه لري چې دوی به گني لوړ مقام ته ورسېږي او په همدې خاطر ورته د لوړو موقفونو لارې او دروازې نه خلاصېږي. دوی دا باور نه لري چې د بریا لوړو څوکو ته گني رسېدای شي، ځکه خو هغه زینه هم نه شي موندلای چې دوی پرې لوړو څوکو ته پورته شي. داسې خلک تل په منځني حالت کې وي او د منځنیو خلکو په څېر فکر او چلند کوي.
خو په دې ځوانانو کې لږ داسې هم وي چې پر خپله بریا باور لري، دوی کار په دې نیت کوي چې: (د بریا پر پاړکو باید یو پر بل پسې پورته شي.) په دې توگه دوی، د خپل باور او ایمان په مرسته او ملتیا لوړو څوکو ته پورته کېږي. دا ځوانان پر بریا باور لري او دا یې منلې چې بریا ته رسېدل ناشونې خبره نه ده، په دې خاطر د خپلو مدیرانو چلند مطالعه کوي، گوري چې بریالي خلک له ستونزو او مشکلاتو سره څنگه مخ کېږي او په سختو حالاتو کې څنگه پرېکړه کوي. دوی له ستونزو سره د خلکو چلند ته گوري او بلاخره پردې پوهېږي چې: (د بریا کونجي(کلي) هغو خلکو ته راځي) څوک چې باور لري چې دا کار کولای شم.
زه یو ځوان پېژنم، دوه کاله مخکې یې پرېکړه وکړه چې د متحرکو کورونو د خرڅلاو یوه څانگه پرانیزي. ډېرو خلکو ورته وویل چې دا کار باید و نه کړې او نه یې کولای شي.
ځوان د کار د پیل لپاره یوازې درې زره ډالر لرل، خو ورته ویل شوي وو چې د دې کار د پیل لپاره یې څو چنده پیسو ته اړتیا ده.
یوه کس مشوره ورکړې وه چې: (ته خپله پوهېږې چې په دې کار کې ډېر خلک بوخت دي، بله دا چې د دې کار د مدیریت لپاره، ته د متحرکو ودانیو په پلور کې څومره عملي تجربه لرې؟) خو ځوان پر خپل ځان او خپلې بریا باور درلود. دا یې ومنله چې دی کافي پیسې نه لري، سیالي (رقابت) سخته ده او تجربه یې هم کمه ده.
له دې سره سره یې بیا هم باور درلود چې: شواهد ښیي چې د متحرکو ودانیو صنعت پراخېږي. بله دا چې د سیالۍ یا رقابت له مخې یې خپله روحیه سنجولې وه، پوهېده چې دې ښار کې د کورونو د پېر و پلور په برخه کې تر بل هر چا ښه پرمختگ کولای شي. ځوان به ویل: زه پوهېږم چې ستونزې ډېرې دي، خو په دې کې هېڅ شک نه کوم چې د بریا پر زینو به ډېر ژر وخېژم.
شک یې رښتیا هم و نه کړ. په پیسو برابرولو کې له واړه خنډ سره مخ شو. په نوي کاروبار کې یې پر بریا قوي باور درلود او د همدې باور په برکت یې دوه پانگوونکي پیدا کړل. ده د قوي باور او ایمان په وسیله (ناشونې، شونې کړل) پیسې یې چې پیدا کړې، د متحرکو یا خوځنده کورونو له یوه تولیدونکي شرکت سره یې خبره وکړه او هغه ورسره ومنله چې خپل تولیدات به پرته له کومې بیعانې (پېشکۍ) پر ده پلوري.
**دوام لري...**

# د سرپل د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسې د بنسټ ډبـره پـه ۱۳۹۱ لمریز کال کـې کېښـودل شـوه چـې پـه لومـړي سر کـې یـې یـوازې یـو پوهنځـی (ښـوونه او روزنـه) درلـود. دغـه پوهنځـي هغـه وخـت یـوازې دوه ډیپارټمنټونـه (ریـاضي- فزیـک او کیمیـا- بیولـوژي) درلـودل. پـه ۱۳۹۲ لمریز کال کـې دې موسسې تـه دوه نـور ډیپارټمنټونـه ( ازبکـي ادبیـات او انگلیسـي ادبیـات) هـم ور زیـات شـول. د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـې رییـس پوهنمـل محمـد عـارف خلیـلي وایـي، اړتیـا تـه پـه کتـو یـې پـه ۱۳۹۳ لمریـز کال کـې د لـوړو زده کـړو وزارت پـه منظـورۍ د دې موسسـې پـه چـوکاټ کـې د جیولـوژي او معـدن پوهنځـی هـم پرانیسـت چـې پـه ټولـه کـې اوس د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـه دوه پوهنځـي ( ښـوونه او روزنـه او جیولـوژي او معـدن) لـري.
د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـې رییـس وایـي، دا چـې د سرپـل ۸۰ سـلنه خلـک پـر کرنـه بوخـت دي او خپلـې ورځنـۍ اړتیـاوې هـم د کرنیزو توکـو پـه وسـیله پـوره کـوي، نـو پـه دغـه ولایـت کـې د کرنـې پوهنځـی یـوه جـدي اړتیـا بلـل کېـږي. دی وایـي، تـازه یـې د لوړو زده کـړو وزارت تـه پـه دغـه موسسـه کـې د کرنـې د پوهنځـي وړاندیـز سـپارلی چـې پـه ۱۳۹۸ لمریـز کال کـې بـه ورتـه دغـه پوهنځـی هـم منظـور شي. خلیـلي وایـي، تـر ډېـره یـې د دغـه پوهنځـي د منظـورۍ کارونـه مـخ تـه وړي چـې دوه ډیپارټمنټونـه (اگرانومـي او باغـداري) بـه ولـري.
د خلیـلي پـه خـبره، د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـه اوسـمهال ۷۲۸ برحالـه محصلیـن لـري او ۴۷۳ محصلیـن د ۱۳۹٦ لمریـز کال د کانکـور پروسـې لـه لارې ورتـه معرفي شـوي چـې ټـول ۱۲۰۱ تنـه کېـږي او لـه دې ډلـې ۴۰۱ تنـه یـې ښـځینه محصلینـې دي. دی وایـي، هـر کال لـږ تـر لـږه پـه شـته دوو پوهنځیـو کـې لـه ۴۹۰ تـر ۵۰۰ پـورې نـوي محصلیـن جذبـوي.
د پوهنمـل محمـد عـارف خلیـلي پـه خـبره، د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـې تـر اوسـه درې دورې محصلیـن د لېسـانس پـه کچـه ټولنـې تـه د خدمـت پـه موخـه وړانـدې کـړي دي. دی وایـي، لومـړۍ دوره محصلیـن پـه ۱۳۹۴ لمریـز کال، دویمـه یـې پـه ۱۳۹۵ لمریـز کال او دریمـه یـې پـه ۱۳۹٦ لمریـز کال کـې فـارغ کـړي چـې پـه دې کـې دوې دورې د ښـوونې او روزنـې او یـوه دوره هـم د جیولـوژي او معـدن لـه پوهنځـي څخـه فـارغ شـوي دي. خلیـلي وایـي، د ټولـو فـارغ شـویو محصلینـو شـمېر یـې ۵۲۰ تنـو تـه رسـېږي.
د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـه ټـول ۳۲ کادري غـړي لـري چـې لـه دې ډلـې ۴ یـې ښـځینه اسـتادانې دي. د موسسـې د رییـس پـه خـبره، درې اسـتادان یـې تـازه لـه ماسـټرۍ پروگـرام څخـه را سـتانه شـوي او دوولـس نـور یـې پـه کـور دننـه او بهر هېوادونـو کـې پـر ماسـټرۍ بوخـت دي چـې د دغـه پروگـرام پـه بشـپړېدو سره بـه یـې د ماسټر اسـتادانو شـمېر ۱۵ تـه ورسـېږي. دی وایـي، تـازه یـې درې نـور اسـتادان پـه روسـیه کـې د ماسـټرۍ پروگـرام تـه ور پېژنـدلي چـې پـه نـږدې راتلونکـي کـې بـه یـې عمـلاً درسـونه پیـل شي. پوهنمـل محمـد عـارف خلیـلي وایـي، پـه دې موسسـه کـې ۲۷ نـور کار کوونکـي لـري چـې ۱۷ یـې اداري او پاتـې نـور یـې خدمـاتي کار کوونکـي دي. د موسسـې رییـس وایـي، د ځـای او اسـتادانو د کمښـت لـه کبلـه دوی اړ دي چـې خپلـو محصلینـو تـه د ورځـې پـه اوږدو کـې پـه دوو ټایمونـو کـې تدریـس وکـړي. دی وایـي، یـوه ډلـه محصلیـن د سـهار لـه ۸ تـر ۱۱ او بلـه ډلـه بیـا د ماسپښـین لـه یـوې د مازیگـر تـر څلـورو بجـو پـورې درس وایـي.
خلیـلي وایـي، د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـه کتابتـون لـري، خـو مجهـز نـه شي ورتـه ویلـی. دی وایـي، دغـه کتابتـون چـې د لـوړو زده کـړو وزارت لـه خـوا ورتـه جـوړ شـوی، اوسـمهال لـږ تـر لـږه ۴۵۰۰ جلـده کتابونـه لـري او تـر یـوې کچـې پـورې د محصلینـو سـتونزې هوارولـی شي، خـو کـه یـې لـه بهرنیـو او یـا د هېـواد لـه نـورو پوهنتونونـو سره پرتلـه کـړو، بیـا نـو ډېـر پرمختللـی کتابتـون نـه شـو ورتـه ویلـی؛ ځکـه د یـوې موسسـې یـا پوهنتـون د کتابتـون لپـاره ۴۵۰۰ او یـا ۵۰۰۰ کتابونـه ډېـر کـم دي او ان پـه نشـت حسـابېږي. پوهنمـل خلیـلي وایـي، د لـوړو زده کـړو وزارت لـه خـوا ورتـه پـه دې وروسـتیو کـې یـو لابراتـوار هـم جـوړ شـوی او یـوه انـدازه د اړتیـا وړ مـواد هـم ورتـه رسـېدلي دي، خـو کـه پـه دې برخـه کـې ورسره نـوره مرسـته هـم وشي، نـو لاس بـري بـه شي.
د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـې رییـس وایـي، پـه پیـل کـې دوی خپلـې اداري او تدریـسي چـارې د سرپـل د تربیـه معلـم پـه ودانـۍ کـې مـخ تـه وړې چـې لـه هغـه وروسـته د نړیـوال بانـک پـه مرسـته ورتـه یـوه تدریـسي ودانـۍ جـوړه شـوې ده چـې څلـور پوړونـه لـري. دی وایـي، همـدا اوس ۴۰۰ د لیلیـې پـه شرایطـو برابـر محصلیـن لـري، خـو دا چـې د لیلیـې ودانـۍ نـه لـري، نـو پـه میاشـتني ډول ورتـه نغـدې پیسـې ورکـول کېـږي او محصلینـو پـه بـازار کـې د ځـان لپـاره کوټـې نیولـې دي. خلیـلي وایـي، د لیلیـې د ودانـۍ جوړېـدو غوښـتنه یـې لـوړو زده کـړو وزارت تـه سـپارلې چـې راتلونکـی کال بـه یـې د جوړېـدو چـارې پیـل شي.
د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـې لپـاره د پخـواني ولسـمشر حامـد کـرزي پـه حکـم لـږ تـر لـږه ٦۴ جریبـه ځمکـه ځانگـړې شـوې او د سرپـل پوهنتـون پـه نـوم ثبـت شـوې ده چـې اوسـمهال یـې د احاطـې چـارې روانـې دي او د جیولـوژي معـدن پوهنځـي د ودانـۍ لـه جوړېـدو سره بـه یـې یـو ځـای چـارې بشـپړې او گټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شي. د لـوړو زده کـړو د ې موسسـې رییـس وایـي، د دې پـروژې لـه پـای تـه رسـېدو وروسـته بـه یـې راتلونکـی پـلان دا وي چـې د نجونـو او هلکانـو دواړو لپـاره ځانگـړې لیلیـې جـوړې کـړي.
د دې موسسـې رییـس وایـي، د اداري تشـکیل او پوهنځیـو پـه زیاتېـدو سره یـې کېـدای شي سـتونزې او غوښـتنې هـم زیاتـې شي، خـو اوسـمهال هـم دوی لـه یـو لـړ جـدي سـتونزو سره مـخ دي. دی وایـي، دا چـې دغـه موسسـه لـه بـازار څخـه لـږ تـر لـږه اووه کیلومـتره لـرې ده، نـو هغـه محصلیـن چـې لـه لـرې پرتـو ولایتونـو څخـه راغلـي، تـر بـازاره ورتـه تـگ راتـگ سخت دی او پـه دې وروسـتیو کـې لـه امنیتـي سـتونزو سره هـم مخ دي. د ده پـه خـبره، کـه هـر څومـره ژر یـې د لیلیـې د ودانـۍ غـم وخـوړل شي، سـتونزه بـه یـې هـم ژر حـل شي. د خلیـلي پـه خـبره، بلـه جـدي سـتونزه یـې د څښـاک د اوبـو ده چـې د موسسـې پـه سـاحه کـې اوبـه پـه سختۍ پیدا کېـږي او کـه پیـدا هـم شي، تروشـې دي. د دې ترڅنـگ د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـې پـه احاطـه کـې لـوی خـوړ تېـر شـوی چـې هـم پکـې د پلـه او هـم پکـې د اسـتنادي دېوالونـو د جوړېـدو اړتیـا ده، څـو د پوهنتـون اړونـده ځمکـه لـه تخریـب څخـه وژغـورل شي. د کتابتـون مجهـز کېـدل، د جومـات او سـپورټي میدانونـو جوړېـدل هغـه اړتیـاوې دي چـې اوسـمهال یـې د سرپـل د لـوړو زده کـړو موسسـه لـري.
پوهنمـل خلیـلي لـه لـوړو زده کـړو وزارت څخـه غـواړي چـې پـه دې برخـه کـې ورسره مرسـته وکـړي. د دې موسسـې رییـس وایـي، د لـوړو زده کـړو د دې موسسـې او پـر پوهنتـون د بدلېـدو لپـاره ډېـر پلانونـه لـري چـې هـر یـو بـه یـې پـر خپـل وخـت عملـي کـړي، څـو سرپـل ولایـت هـم د یـوه مجهـز او پرمختلـلي پوهنتـون درلودونکـی شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۸۵ |
| € | ۸۵,٦۰ |
| Rp. | ٥٤۲ |
| ₹ | ۱۰٥٥ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٥,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبۍ | 16:15 |
| کابل - جده | 17:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# عفونت معده؛ علائم، عوامل، راه‌های پیشگیری و درمان

**ترجمه: فایز کریمی**

عفونت معده نوعی عفونت رودوی است که با دردهای شکمی، حالت تهوع یا استفراغ و گاهی با تب کردن همراه است. شایع‌ترین راه ابتلا به این عفونت که آنفولانزای معده هم نام دارد، در تماس قرار گرفتن با فردی مبتلا یا مصرف آب و غذای آلوده است. عفونت معده کسانی که بدن سالمی دارند، بدون هیچ عارضه و مشکلی بهبود می‌یابد، اما برای افراد مُسن، بچه‌ها و کسانی که سیستم ایمنی ضعیفی دارند، بسیار خطرناک است و حتی می‌تواند منجر به مرگ شود. از آنجا که راه درمان مشخصی برای عفونت معده وجود ندارد، بهترین راه حفاظت از خود در برابر آن، پیشگیری است. علاوه‌بر پرهیز از مصرف آب و غذای آلوده، شستن مداوم دست‌ها هم می‌تواند مانع از عفونت معده شود.

**علائم عفونت معده چیست؟**

هر چند که به عفونت معده، آنفولانزای معده هم گفته می‌شود، اما شباهتی میان آن و آنفولانزای عادی وجود ندارد. آنفولانزا معمولاً دستگاه تنفسی یعنی بینی، گلو وشُش‌ها را تحت تأثیر قرار می‌دهد، اما در آنفلونزا یا عفونت معده به روده‌ها حمله می‌شود و علائمی به شرح زیر در بدن به‌وجود می‌آید:

وقوع اسهال اما غیرخونی (اسهال خونی خود نشان از نوع متفاوت و شدید دیگری از عفونت دارد)؛

دردها و انقباضات شکمی؛

تهوع یا استفراغ یا هر دو؛

سردرد یا دردهای ماهیچه‌ای مقطعی و گاه به گاه؛

تب درجه پایین که از ۳۷ تا ۳۸ درجه دمای بدن تغییر می کند.

**علائم عفونت معده**

بنابه علت عفونت، علائم عفونت معده از ۱ تا ۳ روز بعد از ابتلا به شکل‌های خفیف یا شدید در بدن ظاهر می‌شوند. معمولاً نشانه‌های بیماری تنها ۱ یا ۲ روز به طول می‌انجامند، ولی گاهی‌اوقات، بیش از ۱۰ روز هم در بدن دیده می‌شوند. به‌خاطر مشابهت علائم این مشکل با اسهال میکروبی مانند انگلی چون ژیاردیا، کلستریدیوم، سالمونلا و اشریشیا کلی احتمال دارد که این اسهال ویروسی با میکروبی اشتباه گرفته شود.

**چه زمانی باید به داکتر مراجعه کرد؟**

اگر فردی بزرگسال به این عفونت دچار شود، باید در صورت داشتن علائم زیر به داکتر مراجعه کند:

عدم کنترل و نگهداری مایعات بدن برای ۲۴ ساعت (یعنی خروج مایعات و آب بدن در عرض ۲۴ ساعت)؛

استفراغ کردن در ۲ روز پیاپی؛

استفراغ خونی؛

بی‌آبی شدید بدن که با نشانه‌هایی مانند خشکی دهان، تشنگی مفرط، ادرار زرد و پر رنگ یا ادرار نکردن، ضعف شدید، سرگیجه و منگی؛

وجود خون در مدفوع؛

وقوع تبی بالای ۴۰ سانتی‌گراد.

**دلایل عفونت معده چیست؟**

مصرف غذا یا آب آلوده یا استفاده از ظرف و حوله مشترک با فردی که به عفونت معده دچار است، باعث ابتلا به این بیماری می‌شود. از جمله ویروس‌هایی که موجب این عفونت هستند:

نوروویروس: این ویروس موجب بروز عفونت در کودکان و بزرگسالان می‌شود و شایع‌ترین علت مسمومیت غذایی در دنیا است. این مسمومیت به دیگران سرایت پیدا می کند و بین افرادی که با هم ارتباط تنگاتنگ قرار دارند، زود پخش می‌شود. ابتلا به این ویروس بیشتر از طریق مصرف آب و غذای آلوده است و از طریق ارتباط با افراد مبتلا هم در بدن ایجاد می‌شود.

روتاویروس: این ویروس هم رایج‌ترین دلیل ابتلا به عفونت معده در کودکان است و به‌واسطه تماس دست آلوده با دهان ایجاد می‌شود. این ویروس در کودکان و نوزادان باعث عفونت شدیدی می‌شود. عفونت در بزرگسالانی که به آن دچار می‌شوند با علائم همراه نیست. ولی هنوز امکان سرایت بیماری به دیگران و پخش ویروس وجود دارد، زیرا عفونت همراه با نشانه خاصی نیست. همچنین احتمال دارد که فرد بزرگسال بدون اینکه بداند، عفونت را به دیگران منتقل کند. واکسین این ویروس در برخی از کشورها مانند آمریکا وجود دارد و ظاهراً مفید هم واقع می‌شود.

بعضی از غذاهای دریایی مانند صدف خام یا نیم‌پز هم می‌توانند موجب عفونت معده شوند. هر چند آب آلوده علت ابتلا به اسهال ویروسی است، اما در بیشتر موارد این مشکل در اثر ارتباط با فرد مبتلایی ایجاد می‌شود که بعد از استفاده از سرویس صحی، دست‌هایش را نمی‌شوید و با لمس غذای فردی دیگر موجبات انتقال ویروس به بدن او را فراهم می کند.

**عوامل ایجاد خطر عفونت معده چیست؟**

احتمال وقوع عفونت معده در تمام نقاط دنیا و در همه نژادها، سنین و افراد وجود دارد. اما در افراد زیر ابتلا به عفونت محتمل‌تر است:

کودکان کم‌سن: سیستم ایمنی کودکان به‌مرور رشد می کند. به‌همین‌خاطر، کودکانی که در مهد کودک به سر می‌برند در معرض خطر عفونت هستند.

افراد بالای ۵۵ سال: با افزایش سن، سیستم ایمنی بدن هم ضعیف‌تر می‌شود. افراد مسنی که در خانه سالمندان به سر می‌برند، هم به علت ضعف سیستم ایمنی یا ارتباط با افراد مسن دیگری که حامل ویروس هستند، بیشتر از سایرین در معرض خطر ابتلا به عفونت معده قرار می گیرند.

افراد حاضر در خوابگاه، مدرسه و...: زندگی در محیط‌های عمومی و ارتباط داشتن با تعداد زیادی از افراد باعث می‌شود که احتمال ابتلا به عفونت معده افزایش بیاید.

افراد با سیستم ایمنی ضعیف: افرادی که بنا به دلایل مختلف نظیر ابتلا به ویروس ایدز، شیمی‌درمانی یا مشکلات و درمان‌های طبی دیگر، سیستم ایمنی ضعیفی دارند هم بیشتر از باقی اشخاص در معرض ابتلا به عفونت معده هستند.

**خطرات ناشی از عفونت معده چیست؟**

اصلی‌ترین خطر عفونت معده، کاهش آب بدن است. از دست رفتن آب بدن به همراه نمک و مواد معدنی از نتایج عفونت در معده است. اگر فرد مبتلا دچار مشکل دیگری نبوده و سالم باشد با مصرف مقدار زیادی از مایعات و آب می‌تواند از بی‌آبی بدن در هنگام ابتلا به عفونت معده بکاهد. در افراد مسن، کودکان و کسانی که ضعف سیستم ایمنی دارند، بی‌آبی خطرناک است و برای آب‌رسانی به بدن نیاز به بستری کردن بیمار در شفاخانه و استفاده از سروم و... وجود دارد. بی‌آب شدن بدن خطرناک است و در موارد معدودی منجر به مرگ افراد می‌شود.

**پیشگیری از عفونت معده چگونه است؟**

بهترین روش‌ها برای پیشگیری از دچار شدن به عفونت معده به شرح زیر است:

واکسین کردن کودکان: واکسین پیشگیری از عفونت ویروسی روتاویروس در برخی از کشورها مانند آمریکا وجود دارد. با تزریق واکسین در سال نخست تولد کودک، احتمال دچار شدن به عفونت مذکور کاهش پیدا می کند.

شست‌وشوی کامل دست‌ها: شستن دست‌های خود و فرزندان هم از عفونت پیشگیری می کند. باید به کودکان، شیوه صحیح شست‌وشوی دست‌ها به ویژه بعد از استفاده از سرویس صحی آموزش داده شود. برای نظافت دست‌ها بهتر است از آب گرم و صابون به‌مدت ۲۰ ثانیه استفاده شود و دست‌ها به‌دقت و شدت کافی به هم مالیده شوند. در شست‌وشوی دست‌ها، حواس‌تان به زیر ناخن‌ها، درزها و ریشه ناخن‌ها هم باشد. بعد از شستن هم، دست‌ها را خوب آب بکشید و در مواقعی هم که صابون وجود ندارد، از ژل‌های ضدعفونی‌کننده و دستمال‌های صحی استفاده کنید.

رعایت صحت شخصی در منزل: وقتی با اشخاص دیگری زندگی می کنید، نباید از ظرف و ظروف یا حوله مشترک استفاده کنید.

دوری از افراد مبتلا: تا جایی که می‌توانید از افرادی که به این عفونت دچار هستند، دوری کنید.

**نکات مهم برای جلوگیری از عفونت معده در سفر چیست؟**

با سفر به شهر یا کشوری دیگر، احتمال ابتلا به عفونت ناشی از مصرف آب یا غذای آلوده افزایش پیدا می‌کند، اما اقدامات زیر در کاهش احتمال عفونی شدن معده مؤثر هستند:

فقط از آب‌های معدنی که در بطری‌های پاکیزه و پمپ‌شده هستند یا آب گازدار، استفاده کنید.

از مصرف یخ‌هایی که به فروش می‌رسد هم پرهیز کنید. شاید با آب آلوده درست شده باشند.

برای مسواک زدن هم از آب معدنی استفاده کنید.

از خوردن میوه و سبزیجات خام (میوه پوست‌کنده، سبزی و سالاد) که دیگران درست کرده‌اند هم پرهیز کنید، چون ممکن است دستان‌شان آلوده باشد.

از خوردن گوشت و ماهی نیم‌پز هم خودداری کنید.

**درمان عفونت معده چگونه است؟**

معمولاً درمان مشخصی برای عفونت معده وجود ندارد و آنتی‌بیوتیک‌ها هم برای مقابله با ویروس مؤثر نیستند و استفاده بیش‌ازحد از آنها می‌تواند موجب مقاومت آنتی‌بیوتیکی شود. درمان عفونت معمولاً با مراقبت‌های شخصی آغاز می‌شود.

**اثر سبک زندگی و درمان‌های خانگی برای رفع عفونت معده چیست؟**

برای بهبود و جلوگیری از بی‌آبی بدن در هنگام عفونت معده به موارد زیر توجه کنید:

به معده خود آرامش بدهید و چند ساعت از مصرف غذاهای جامد پرهیز کنید.

تکه‌های کوچک یخ مصرف کنید و آب را جرعه‌جرعه بنوشید. مصرف نوشیدنی‌های ورزشی بدون کافین، آب گازدار، آبگوشت رقیق و نوشیدن مقدار زیادی آب در طول روز هم مفید است. هر بار که آب می‌نوشید، آن را جرعه‌جرعه و آرام مصرف کنید.

غذاهای زودهضمی مثل گلاتین، برنج، کیله، مرغ، بیسکویت و... بخورید. اگر دوباره دچار حالت تهوع شدید، از خوردن دست بکشید.

از مصرف بعضی غذاها و مواد خوراکی مانند محصولات لبنی، کافین، الکل، نیکوتین و مواد غذایی سُس‌دار و چرب پرهیز کنید.

به‌اندازه کافی استراحت کنید، زیرا بی‌آبی بدن و بیماری موجب ضعیف شدن بدن می‌شود.

# عمران خان: پاکستان به سبا د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو کوربه وي

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي، د افغان طالبانو او امریکا ترمنځ یې د سولې خبرو ته لاره هواره کړې ده.

نوموړي په پېښور کې یوې غونډې ته په وینا کې ووېل چې د دوی په هڅو به د راتلونکې دوشنبې په ورځ(سبا) د طالبانو او امریکا ترمنځ پرېکنده مخامخ خبرې وشي.

نوموړي دغه خبرې اترې او پرمختګ د خپل حکومت لویه لاسته راوړنه بللې او پر دې خبرو اترو یې خوښي څرګنده کړې ده.

عمران خان ویلي، پخوا به امریکا له پاکستانه د طالبانو پرضد د جدي اقداماتو غوښتنې کولې، خو اوس له دوی غواړي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو ته زمینه برابره کړي.

نوموړي په دې اړه ووېل: «زه تل دا وایم چې د افغان شخړې هواری د خبرو اترو له لارې ممکن دی».

د عمران خان په وینا، که چېرې په افغانستان کې سوله او ثبات وي، نو پېښور به د مرکزي اسیا لپاره د سوداګرۍ پر مرکز بدل شي.

هغه وایي، هغه مهال چې امریکا په افغانستان کې خپلو عملیاتو ته زور ورکړی و، ده ورته د سولې د خبرو اترو غږ وکړ، اوس چې امریکا سوله غواړي، نو دی د دغه دریځ ملاتړی دی.

د نوموړي په وینا، سبا به د طالبانو او امریکا ترمنځ کېدونکې خبرې اترې پرېکنده او پایلې لرونکې وي.

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي تر دې مخکې دوه ځلې له طالب استازو سره په قطر کې خبرې اترې کړې دي.

خلیلزاد چې د افغان سولې په اړه په دریېم سفر راوتلی، تر اوسه یې پاکستان، افغانستان، ترکمنستان، ازبکستان او بلجیم ته سفرونه کړي دي.

تاکل شوې چې نوموړی قطر او متحده عربي اماراتو ته هم ولاړ شي.

بلخوا ځینو سرچینو خبر ورکړی چې پاکستان خلیلزاد ته ویلي چې اسلام اباد غواړي د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو اترو کوربه‌توب وکړي.

عرب نیوز ورځپاڼې د خپلو سرچینو په حواله لیکلي، پاکستاني چارواکو دغه خبرې له زلمي خلیلزاد سره په وروستۍ لیدنه کې کړې دي.

عرب نیوز لیکلي، پاکستان غواړي د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې په برخه کې همکاري وکړي. د دغه هېواد په بهرنیو چارو وزارت کې یوې سرچینې عرب نیوز ته ویلي، دوی د زلمي خلیلزاد په واسطه خپل پیغام واشنګټن ته رسولی، خو تر اوسه یې ځواب نه دی ترلاسه کړی.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري، جواد تیموري او امان الله حنیفي
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

Daily

New Vision, New Journey








یکشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۵مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱٦مه | دویم کال | ۳۰۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۱٦ | ۱۹ | ۱۰ | ۲۰ | ۱۸ |
| -٤ | ۲ | ۱ | ۲ | ۵ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰٦:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۱۷ | مازیګر ۰٤:۰٦ | ماښام ۰۵:٤۲ | ماخوستن ۰٦:۵۷

## نړۍ



له نړیوالو غبرګونونو سره؛

# د کوسوو پارلمان د دغه هېواد د بشپړ پوځ د جوړولو لایحه تصویب کړه

۳

## قطر د خلیج له نورو هېوادونو سره د اړیکو د ښه کېدو هڅه کوي



د قطر د بهرنیو چارو وزیر شیخ محمد بن عبدالرحمن الثاني ویلي، هېواد یې له کویټ او د خلیج له نورو هېوادونو تمه لري چې په سیمه کې روان بحران پای ته ورسوي او د خلیج د همکارۍ شورا له سره تنظیم کړي.
نوموړي ویلي، د کویټ امیر د سیمې هېوادونو ترمنځ د اړیکو په ساتلو کې ښه رول لوبولی او قطر پر کویټ او د سیمې پر نورو هېوادونو باور لري چې د خلیج د همکارۍ د شورا غړي هېوادونه بیا له یو بل سره نږدې کړي.
الثاني ویلي، د نړۍ د حالاتو پر وړاندې یو موټی خلیج غوره دی، نه دا چې د دې سیمې هېوادونه په یوازې سر عمل وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې نږدې نهه میاشتې وړاندې سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، بحرین او مصر له قطر سره خپلې ډیپلوماټیکې اړیکې پرې کړې او دغه هېواد یې د اخوان المسلمین په ګډون له سخت دریځو ډلو په ملاتړ تورن کړ، خو په دې وروستیو کې په سیمه کې له رامنځته شویو تحولاتو داسې ښکاري چې سعودي عربستان او د خلیج نور عربي هېوادونه غواړي چې له قطر سره بېرته نږدې شي.
سعودي عربستان تېره اونۍ د قطر امیر ته د خلیج د همکارۍ د شورا په سرمشریزه کې چې په ریاض کې وه، د ګډون بلنه ورکړه.
که څه هم د قطر امیر په دې سرمشریزه کې برخه وانه خیسته، خو د بهرنیو چارو وزیر یې دې غونډې ته واستاوه.
قطر دا مهال په نړیوالو بازارونو کې لوی پانګوال دی او یوازې په برېټانیا کې یې پنځه میلیارده ډالره پانګونه کړې ده.
دغه راز متحده ایالتونه په قطر کې ستره پوځي اډه لري چې شاوخوا لس زره پوځیان پکې مېشت دي.

## استرالیا هم بیت المقدس د اسرائیل د پلازمېنې په توګه په رسمیت وپېژانده



استرالیا لوېدیځ بیت المقدس د اسرائیل د پلازمېنې په توګه په رسمیت وپېژانده. له امریکا، ګواتیمالا او پاراګوای وروسته استرالیا څلورم هېواد دی چې لوېدیځ بیت المقدس د اسرائیل د پلازمېنې په توګه په رسمیت پېژني.
د استرالیا لومړي وزیر سکاټ موریسن وایي: «استرالیا اوس لوېدیځ بیت المقدس چې د پارلمان او ډېریو حکومتي بنسټونو ځای دی، د اسرائیل د پلازمېنې په توګه پېژني. لوېدیځ بیت المقدس د اسرائیلو پلازمېنه ده. موږ لوېدیځ بیت المقدس ته د خپل سفارت لېږد ته سترګې په لاره یو، خو کله چې د دغه ښار د وضعیت په اړه وروستۍ پرېکړه وشي.»
د استرالیا لومړی وزیر وایي، تر هغې چې د اسرئیل او فلسطین ترمنځ د یوه هوکړه لیک پر بنسټ د بیت المقدس برخلیک روښانه نه شي، د دغه هېواد سفارت به له تل ابیب څخه ونه لېږدول شي، د موریسن پر دې پرېکړه د استرالیا کارګر ګوند له خوا نیوکه وشوه.
د استرالیا د کارګر ګوند مشر بل شارټن په دې اړه وویل: «دا د ښاغلي موریسن له خوا یو سپکوونکی شاتګ دی. ډاډ نه یم، کله یې چې د سفارت د لېږد مسئله اعلانوله، واقعاً پوهېدم چې څه وایي. مسئله له دې خبرو لویه ده. زما وېره دا ده چې موریسن نه یوازې سیاسي شاته تګ کړی، بلکې استرالیا یې د نړۍ په کچه احمقه ښودلې ده.»
د امریکا متحده ایالتونو، تېر زېږدېز کال لوېدیځ بیت‌المقدس ښار د اسرائیل د پلازمېنې په توګه په رسمیت وپېژانده او خپل سفارت یې هلته ولېږداوه.


## نامزدان معترض لوگر کمیسیون مرکزی و ولایتی انتخابات را به فساد و تقلب متهم نمود




شماری از نامزدان ولسی جرگه در لوگر، کمیسیون مرکزی و ولایتی انتخابات را به فساد و تقلب متهم نموده و مدعی شدند که حق آنان تلف و کسانی در نتایج ابتدایی پیروز اعلان شده اند که آرای مردم را با خود ندارند.
برای انتخابات ولسی جرگه، از لوگر به شمول پنج زن، ۳۵ تن نامزد شده بودند که از جمع آنان، محمد اسماعیل صدیقی، انجنیر محمد آصف نبی زاده، وفی الله افتخار و هما احمدی در لیست ابتدایی پیروز اعلان شدند.
معترضان گفتند که شمار زیادی از نامزدان این ولایت، اعتراضات و شکایات شانرا به دفتر ولایتی کمیسیون شکایات ثبت کرده اند.
نصرت الله وفا نامزد ولسی جرگه از لوگر، در نشست خبری که دیروز در شهر کابل برگزارشده بود، گفت که کمیسیون انتخابات، افرادی را در لیست ابتدایی برنده اعلان کرده است که رای مردم را با خود ندارند.
به گفته این نامزد انتخابات، این تصمیم کمیسیون، مردم را نسبت به عملکرد کمیسیون بی باور کرده است و احتمال دارد که به خاطر خیانت به آرای مردم، در انتخابات های آینده سهم نگیرند.
وی، با اشاره به اینکه شماری از کمیشنران کمیسیون انتخابات، با اخذ پول سه تن ذکور را برنده اعلان کرده اند، گفت: «سه تنی که در لیست ابتدایی اند، به اساس آرای مراکز و محلاتی که قبلاً از سوی کمیسیون شکایات باطل اعلان گردیده است، برنده اعلان شده اند که خلاف قانون است».
از سوی هم اسنادی که در اختیار پژواک قرار داده اند، نشان می دهد که کمیسیون شکایات انتخاباتی ولایت لوگر طی مکتوب شماره ۸۸ مورخ ۲۴/۰۸/۱۳۹۷ خویش فیصله کرده است که آرای مراکز مکتب دهنو، مکتب سرخ آب، مکتب لیسه برکی راجان، لیسه مولانا یعقوب چرخ، چهار محل (۰۳، ۰۴، ۰۵، ۰٦) مرکز دوبندی و مرکز دبر به استثنای محل کوچی ها، باطل و آرای آن در نتایج ابتدایی هم درج نگردد.


## ژونـــد

## له پلار سره وخت تېرول د ماشوم ذهني وړتیا لوړوي



له زیږېدو څخه تر دوه کلنۍ پورې ماشومان په کورنۍ کې د ټولو د پام وړ وي، خو نوې څېړنې ښیي چې له پلار سره په نږدې ژوند تېرولو سره په ماشوم کې د چټکې زده کړې او پوهې ماده لوړېږي. څېړونکي وایي، د تې خور ماشوم له مور سره نږدېوالی یوه عادي خبره ده، خو که د وخت په تېرېدو ماشوم له پلار سره په بېلابېلو کارونو کې یوځای وي، د دوی په ذهني فعالیت او وده کې زیاتوالی راځي. دا څېړنه په برېټانیا کې د اکسفورډ پوهنتون په طبي شعبه کې ترسره شوې.
دوی د څېړنې پرمهال هغه ماشومان له نږدې وڅارل چې له پلرونو سره یې د بېلابېلو کارونو پر وخت یوځای وو. له دوی سره یې د څېړنې په ترځ کې خبرې اترې وکړې او له لوبو یې د څه وخت لپاره لرې وساتل. له ازموینې وروسته دا په ډاګه شوه، هغه ماشومان چې له پلرونو سره د کار پر مهال یوځای وي او د هغوی کړنې څاري، د دوی ذهني وړتیا د هغو په پرتله چې پلار یې ورسره په سختۍ او قهرجنه لهجه چلند کوي او له ځانه یې لرې ساتي، ډېره لوړه وي او په چټکۍ د زده کړې وړتیا لري.

## دغه خواړه مو اعصاب ځواکمنوي



مغز او اعصاب خوړو ته هغسې اړتیا لري، لکه زړه، عضلات او د وجود نور غړي یې چې لري. هغه خواړه چې د مغز په ځواکمنولو کې مرسته کوي او د ذهن په سالم ساتلو کې غوره بلل کېږي، په لاندې ډول دي:

**کب**

کب د اومېګا ۳ غوړو اسیدونو غوره سرچینه ده. دغه مواد له مغز سره په ښه اونرم کار کولو کې مرسته کوي. ماشومانو ته وخت ناوخته د کب غوښه ورکول د هغوی د تمرکز ځواک پیاوړی کوي.
هغوی چې د کب غوښه ډېره خوري، پر اضطراب او ژور خپګان د اخته کېدو خطر یې تر نورو کم دی.

**شنې پاڼې لرونکې سابه**

پالک، ورخاړی، ګندنې او نور شنه سابه له ډېرو غوره موادو مالامال دي. سابه د اعصابو د ښه فعالیت لپاره تر ټولو غوره خواړه ګڼل کېږي.

**د زیتون غوړي**

اعصاب تر ډېره له غوړو اسیدونو جوړ دي او دغه غوړ اسیدونه د اعصابو د سم فعالیت لپاره په دوامداره توګه اړین دي. د زیتون غوړ هغه څه دي چې همدا صحي غوړ اسید لري چې ستاسو تمرکز او حافظه پیاوړې کوي. د زیتون غوړ د هغو عصبي کمزوریو په مخنیوي کې هم موثر دي چې د عمر په زیاتېدو سره انسان ته پیدا کېږي.